مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی ۲۰۱۹/۰۲/۰۶

# غزل

د ژوندانه د لوړ ارمانه غورځیدلی یمه
که زه د سولې د آسمانه غورځیدلی یمه

یمه شاعر زه د رنګونو ، ښکلاګانو شاعر
زه د ښایست د اوچت بامه غورځیدلی یمه

زما د ژوند هغه احساس هغه جذبه مړه شوې
زه د خپل وړور له احترامه غورځیدلی یمه

بدن مې ټول تپي تپي دی او سوځیږي مدام
واوره طبیبه له درمانه غورځیدلی یمه

نور خریدار مې د ښایست په یو بازار کې نه شته
ځکه د هر ښکلي له پامه غورځیدلی یمه

اوس پسرلی په چیغو چیغو خپل غزل ته ژاړي
په پسرلي کې د الهامه غورځیدلی یمه

مصطفی پسرلی
01/02/2017


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ